# د خوشحال د "فراق نامې" موضوعاتي جائزه

# A Thematic Analysis of ‘Firaq Nama’ - Khushal’s Poetic Work

Tariq Khan*

Dr Syed Zafar Ullah *

**Abstract:**

Kushal Khan Khattak is a multidimensional personality of our history. He was not mere a poet or writer but also a national leader and reformer, who played his vital role against the Mughal colonialists. In this regard, he spent some of his life in imprisonment of Mughals. Firaq Nama is one of his major literary works which was written in Ranthambore when he was imprisoned there, and its manuscript was published in 1983, with a preface and introduction written by Hamish Khalil. His such work contains poetry, where his multidimensional personality directly reflects on it. Though it seems that Khushal was feeling nostalgic there, because he missed his homeland, his family and relatives, and his freedom. Such nostalgia provides strong basis for Firaq Nama’s theme. In this paper we will elaborate Firaq-Nama according to such circumstances, where we will see both; that how ‘a man of a will’ can find himself in different stages of life, and also that what are its implications on Pashto literature.

خوشحال خان خټک (۱۰۲۲-۱۱۰۰) د پښتو ادب، سیاست او تاریخ یو داسې حواله ده. چې د خپل فکر و فن او ځانګړي ادبي حېثیت لۀ وجې یو جوت مقام لري. ځکه چې د دوي د شخصیت سره د پښتو ادب او تاریخ داسې ډېرې حوالې پېوست دي. چې پۀ پښتون، افغان وطن کښې او پۀ خصوصیت سره د پښتو ادبیاتو پۀ برخه کښې ئې ورته پیاوړتیا بخښلې ده. د پښتو ادب پۀ دوارو برخو یعني پۀ نظم او نثرکښې ئې د مقدار سره د معیار پۀ حواله هم لویه شتمني او پنګه اچولې ده. د دوي دا ادبي زیار د پښتو ادب څېړنکارانو او نقادانو د پښتو ادب "زرین دور" ګڼلے او بللے دے. د خوشحال خټک منظوم او منثور ادبي توکي د خپل دور پۀ حساب او د فکر

* PhD Scholar Department of Pashto University of Peshawar
* Assistant Prof Dept of Pashto AWKUM

او موضوع پۀ حواله باندې د پښتو ادب پۀ تدریجي ارتقاء کښې داسې شتمني ده. چې ادبي او علمي اړخ ئې مسلم دے. پۀ نظم کښې کلیات او پۀ نثر کښې ئې دستار نامه د خصوصي یادونې وړ دي. د خوشحال خټک پۀ ادبي حېثیت او زیار باندې وړومبۍ د قدر وړ څېړنې مستشریقینو کړې دي، چې اختلاف ورسره هم کېدے شي، خو نورو څېړنو ته ئې زمینه برابر کړې ده. او پۀ دې برخه کښې د خصوصیت سره د خدیجه فېروز الدین نامه هم د هېرولو نه ده ځکه چې وړومبے سندي کار پۀ خوشحال خټک باندې دوي کړے ؤ. د دې نه ورته پښتنو څېړنکارانو هم خپلې پلټنې کړې دي. چې د یادونې وړ نامې پۀ کښې د دوست محمد خان کامل، قلندر مومند، عبدالحئ حبیبي، عبدالشکور رشاد او همېش خلیل دي. د خوشحال خټک "فراق نامه" نومې منظوم اثر همېش خلیل پۀ خپل زیار د مقدمې او حاشیو سره مرتب کړې ده. دا اثر پۀ وړومبي ځل باندې پۀ جون ۱۹۸۳ عیسوي کښې قامي مکتبه پېښور چاپ او خپور کړو. دا اثر د خپلې موضوع او ادبي مقام پۀ حواله باندې خپل یو ارزښت او اهمیت لري. د فراق نامې د قلمي نسخې پۀ اړه همېش خلیل لیکي:

"د فراق نامې دا قلمي نسخه د پېښور میوزیم پۀ کتب خانه کښې پرته ده. تر دغه وخته زما د معلوماتو مطابق دغه واحده قلمي نسخه ده، چې معلومه ده. د هر چا نه اول خدائے بخښلي دوست محمد خان کامل مومند له دغې نسخې نه استفاده کړې ده. او د دغې نسخې څه مثنویانې ئې پۀ "خوشحال خټک" نومې کتاب کښې چې پۀ کال ۱۹۵۱ع کښې پۀ اول ځل د "اداره اشاعت سرحد پېښور" له خوا شایع او خپور شوے دے، پۀ طور د خوشحال خان د حبسیه کلام پېش کړې دي. ګران زلمي هم د دغه نسخې نه یو نقل اخستے دے. چې د هغې یو کاپي ئې ماته زما پۀ خواهش راکړې وه. ولې اصل نسخې سره د مقابلې نه پس د ګران زلمي او کتاب تر مېنځه د واضح فرق پۀ وجه ما د نسخې نه خپل نقل هم واخستو." [i]

دوست محمد کامل مومند او زلمي هېواد مل دغه قلمي نسخه ليدلې او تر څه حده ئې ترې استفادې هم کړې دي، خو د همېش خليل مرتب کړې او ترتيب کړې "فراق نامه" په هر صورت د اهميت او ارزښت وړ ده. ځکه چې د کلياتو نه ئې ور کښې شعرونه هم انتخاب کړي دي. او ورسره ئې ځاے په ځاے لمن ليکونه او شرحې او حاشيې هم ليکلې دي. چې د دې سره د "فراق نامه" نومې کتاب خوند، علمي او ادبي حېثيت اوچت کړے دے. دوست محمد کامل مومند په خپل کتاب خوشحال خان خټک سوانح حيات (اردو) کښې صرف دومره يادونه کړې ده، او د فراق نامې په اړه ئې ليکلي دي چې:

> "فراق نامه خوشحال خان کي حبسيات کا مجموعه هے. جو غزلوں او ر مثنويات پر مشتمل هے. رنهتمبور ميں دوران حبس ميں ختم هوا . يه مجموعه جامع نهيں بعض بهت اهم حبسيه نظميں اس ميں موجود نهيں البته اس کی بعض غزليں ديوان اور کليات ميں موجود هيں"[ii]

د همېش خليل د ترتيب کړې "فراق نامه" د خوشحال خان خټک د کلياتو په مرسته باندې اوس يو بشپړ شکل لري. د حبسيه کلام دا مجموعه د خپل موضوعاتي تنوع سره خپل موضوعاتي اهميت هم لري. چې را روانو کرښو کښې به پرې په تفصيل سره بحث وشي. د فراق نامې د موضوعاتي او ادبي ارزښت او مقام نه ورته د دې ادبي توکي د خالق د ټولنيز حېثيت او ورسره د هغه وخت د سياسي حالاتو او قېد و بند باندې خبره هم کول هم ضروري دي. ولې چې تر څو هغه حالات او قېد و بند خبره مونږ ونه کړو نو داسې به په فراق نامه باندې خبره کول نيمګړې وي. ځکه چې د فراق نامې نه ورته هغوي د خپل بند په دروان کښې يو بل ډېر اهم ادبي او سياسي اثر "دستار نامه" هم ليکلې ده. چې د خپلې موضوع علميت او ادب په دنيا کښې يو منلے او کوټلے کتاب ګڼل کېږي. تر دې دمه په خصوصيت سره د پښتو په زنداني ادب کښې دستارنامه او فراق نامه د خپل اهميت او ادبي مقام په حواله باندې د صف اول توکي او ادبي فن پارې دي. ښائي د خوشحال خټک د قيد و بند په حواله مختصره او جامع خبره وکړو، ځکه چې د دوي دغه تخليق شوي کتابونو باندې د خپل وخت د معروضي حالاتو او د ليکوال د ذاتي ژوند او نفسياتو پوره پوره اثر او چاپ پرېوتل هم يو فطري خبره ده. تخليقي او تنقيدي فکر لرونکي خلک د خپل

معروض نه پهٔ يو صورت باندې هم ځان نه شي ژغورلے او نه داسې كول ممكن دي. خوشحال خټک كه هر څو پلار پهٔ نيكه باندې د مغل منصب دار او طرفدار پاتې شوے ؤ، خو د مغل سره د خوشحال د كورنۍ شخړو بيا دا خبره ښخې يو بدل صورتحال ته يوړه. مغل واكدار ؤ او پښتون محكوم د وطن قبضه د مغل پهٔ لاس كښې وه، او مسلسل خطره او وېره ورته هم د پښتنو نه وه. د خوشحال خټک كورنۍ د خپل سياسي او سماجي اثر و رسوخ له وجې د پښتنو پهٔ وطن كښې مشهوره او زور اوره كورنۍ وه. د دغه كورنۍ پهٔ لاس كښې د ساتلو د پاره مغل كله د راهدارۍ كله د منصب دارۍ او كله د بل كوم رشوت نه كار اخستلو. خو اخر ئې دا حربې هم پرېښوې او خوشحال خټک د نيولو او گرفتارۍ بند ئې شروع كړو پهٔ دې حواله دوست محمد خان كامل مومند ليكي:

"سيد امير خان خوافي نے پشاور پۂنچ کر خوشحال خان کو پيغام بھيجا کہ اس کے ساتھ مشورہ کرنا مطلوب ھے. لھذا وہ پشاور آئے. جمادی الثاني ۱۰۷۴ کا وسط (وسط جنوری ۱۶۶۴) اور جمعہ دن تھا خوشحال خان علي الصبح اٹھا اور حوائج ضروریہ اور غسل سے فارغ ھو کر جمدھر کمر سے باندھا اور نماز پڑھ کر سیلے نام گھوڑے پر سوار ھو کر حسب الطلب پشاور روانہ ھوا. طلوع افتاب کے وقت نوشہرہ اور دوپۂر سے پشاور پۂنچ گیا. پشاور پۂنچ کر خوشحال نے صوبہ دار کو اپنی امد کي اطلاع دینے کیلئے مغل کے پاس ادمی بھیجا کہ میں حاضر ھو گیا ھوں. میرے لائق جو خدمت ھو اس سے اگاہ کیا جائے. اس نے واپس آکر خوشحال خان کو یہ حکم سنایا کہ وہ کل دربار میں حاضر ھو. تین دن گزر گئے مگر دیوان منعقد نہ ھوا صوبہ دار کے پیش کار شیخ گجرات نے خوشحال خان کو کھلا بھیجا کہ میرے پاس مشورہ کے لئے آو اس کے بعد (صوبہ دار) کے پاس گیا اور وھاں سرکاري سپاھیوں نے خوشحال خان کے گرد گھیرا ڈال کر اسے گرفتار کر کے پانچ سیر بھاري بیڑیا اس کے پاؤں می ڈال دیں."[iii]

پهٔ دغه وخت كښې د خوشحال خټک د پېښور د نائب صوبه دار مرزا عبدالرحيم سره تعلقاتو كښې هم خلل خو ؤ. د سيد امير خان خوافي د كابل صوبه دار مقرر كېدل او هغوي د خپل روب داب او مغل حكمران اورنگزيب عالمگير ته د خپلې كاركردگۍ د ښودلو د پاره اهم سړي گرفتارول پهٔ دغه خلكو كښې دوي خوشحال خان خټک پهٔ نخښه كړو. د پېښور د نائب صوبه دار

مرزا عبدالرحيم که قسم قسم سازشونه جوړول نو بل خوا ئې د خوشحال خټک د مرګ او ګرفتارۍ د پاره د دوي ترونه، بهادر خان او فېروز خان هم قائله کړل. او د ده پهٔ ګرفتارۍ کښې ئې ورته خپل خدمات وړاندې کړل. د خوشحال خټک د ګرفتارۍ نه پس هم دوه نورې واقعې هم رامنځ ته شوې، يو دا چې د خوشحال خټک د کورنۍ د اثر رسوخ له وجې امن و امان ته خطره پېښه شوه. خو خوشحال خټک خلکو ته د پرامنه اوسېدو خواست وکړو. او بلهِ دا پېښه وشوه چې پهٔ خوشحال خټک باندې د قتل د دعوې يو کوشش هم وشو. د دې دوه اهمو پېښو پهٔ اړه دوست محمد کامل ليکي:

"سيد امير خان خوافي کو خوشحال کي گرفتاري کے بعد يہ خيال پيدا هوا کہ خوشحال خان کوئي معمولي ادمي نهيں. امرائے عظام ميں کئي يار دوست رکھتا هے. وہ اس کي حمايت کريں گے اس لئے اس کے پهانسنے کو ايک اور جال بهي بچهايا جائے. اتفاق سے ان دنوں ايک شخص انو کے رزڑ قتل هوا تها. سيد امير خان خوافي نے سوچا کہ مقتول کے بهائي شهداد کو اپنے ساتھ ملا کر قتل کا الزام خوشحال خان خٹک پر لگايا جائے اور خدا يار خليل اور صادق بخشي کے مشورہ سے شهداد کو بلوا کر خوشحال خان کي موت کے فتوي کے تيار کرنے ميں مصروف هوا. مگر اس نئي مفسدہ پردازي ميں اسے کاميابي نہ هوئي اور اخر خوشحال خان کو هندوستان روانہ کر ديا"[iv]

هر کله چې خوشحال خان خټک ګرفتار کړل شو او هندوستان ته ولېږل شو او هلته د ډهلي او جے پور پهٔ رياست کښې د رنتهمبور کښې لږ تر لږه دوه نيم کاله قيد شو او د قيد دغه وخت ئې هلته پهٔ هندوستان کښې تېر کړو. د قېد و بند پهٔ اړه ئې پهٔ کلياتو کښې هم پهٔ ګڼ شمېر کښې شعرونه موندلے شي. خو پهٔ دې اړه بشپړه زنداني شعري مواد پهٔ "فراق نامه" کښې محفوظ دي. پهٔ دې کښې د موضوع پهٔ حواله باندې تر کافي حده پورې تنوع ده. خو دلته ترې پهٔ ببلا ببلو حوالو هغه شعرونه نقل کوو چې د فراق نامې روح دے. د فراق د تکليفونو او غمونو ذکر پهٔ دې ډول باندې کوي او وائي:

"که غمونه د دې خپل خاطر خراب کښم
بويه دا چې دفترونه يا کتاب کښم
پهٔ بيان پهٔ قصيده به تمام نه شي

که نا سازې د سپر د شهاب کښېم
د فراق غمونه لور پهٔ لور انبار دي
پهٔ کاغذ باندې د کوم يوه حساب کښېم
پهٔ قلم باندې د هيچا حکم نشته
چې بې ظلمه ستمونه انقلاب کښېم"[۷]

د قېد پهٔ دوران کښې د هند دننه هغه ته ډېره څه روښانه شوي وو. خوشحال خان خټک هغه بيا قلم ته سپارلي هم وو. ځکه چې هغوي د وخت د باچا ټول اعمال ليدل پهٔ دغه دوران اورنګزېب عالمګير خپل پلار شاه جهان پهٔ اګره کښې بنديوان ساتلے ؤ او دغه شان ئې بيا خپل ټول ورونه هم د تېغه تېر کړل. داسې ئې خوشحال خان خټک هم بنديوان کړے ؤ. لکه چې وائي که زهٔ دا ليکل شروع کړم نو اهونه ژړا او عزابونه به ليکم. د جېل د دغه سختيو او فراق پهٔ غم کښې خوشحال خټک ډېر څه ليکلي دي، لکه چې بل ځاے د فراق، جدايۍ، بېلتون د رنځ اهوونه داسې نظم کوي:

"واوېلا فرياد فرياد
د فراق د لاسه داد
واوېلا فرياد، اه ، اه
جدائي وکاږي ساه
پهٔ سړي د فراق غم
رڼا ورځ کاندي تور تم
يو غم ښه دے نه بېلتون
چې دي پوخ کاندي لړمون
پهٔ رنځ يو ځله سړے مري
پهٔ هجران سره ځو دے مري

پهٔ مرګ یو ځله ادم مري
پهٔ هجران سره هر دم مري
زهٔ چې تل سبا بېګاه
نور څه نه کړم بې اه، اه
دا ساړه اهونه نه دي
سرې لمبې د لړمانه دي" [vi]

خوشحال خټک که څو د فراق ټول تکلیفونه کړاؤنه بیان کړي دي. او هر هغه درد او تکلیف چې دوي نظم کړے دے. هغه پهٔ فراق نامه کښې پهٔ زغرده لیدل کېږي. نو دې سره سره ئې د خپل وطن د غرونو، سیندونو، د ښکلا او د خپل وطن د خاورې او خلکو سره د مینې نغمې هم نظم کړي دي. ځاے پهٔ ځاے د خپل وطن د خاورې د کاڼو، ښکلا او پټوسره د بارانونو سندرې هم وئیلي دي د خپل وطن سره د مینې ثرګندونه داسې کوي:

"که د سراے مزکه سنګزار ده
و خوشحال وته فرخار ده
دا بهار لکه د سراے دے
هسې کله د بل ځاے دے
حسن خېره دي دا خاورې
مهر امېزه دي دا خاورې
ملک ئې کان د ملاحت دے
پهٔ کښې نغښتې برکت دے
تر حمله تر میزانه
کښت ئې شي پهٔ درې بارانه" [vii]

پۀ دې اوږده قصيده کښې ئې که د خپل ځائے د مسکن د فصلونو، پټو، بهارونو ذکر کړے دے نو بل خوا ئې پۀ کښې د ځنې شخصياتو يادونه هم کړې ده. لکه چې وائي:

"ابدالان پۀ کښې مېشته دي
واصلان پۀ کښې پراته دي
شيخ رحمکار پۀ کښې پيدا دے
دې ما پلار پۀ کښې پيدا دے
خاک پا د شيخ رحمکار[*] شم
د خپل پلار تر تربت ځار شم
دا شرف د د بېسيار دے
چې پۀ کښې د شيخ مزار دے" viii

د خپل پلار او پۀ خصوصيت سره د ابدال، واصل او شيخ رحمکار ذکر دا ثابتوي چې د خوشحال خان خټک د خپل وطن د هر وګړي سره بې انتها مينه وه ځکه خو ئې د خپل سرائے پۀ تعريف کښې د دوي ذکر کړے دے. داسې هم پۀ دې قصيده کښې ئې د خپل ورور فقير جميل بېګ سره د خپلو ورېرو او ورېرونو يادونه هم کړې ده. د خوشحال خټک د خپل وطن سره د مينې دا حال ؤ چې د خپلو وطن سپيي ئې هم د سترګو تور ؤ. ځکه خو ئې د وطن خاوره ئې پۀ امن و امان کښې غوښتله، او د غم درد نه ئې پۀ امان کښې غوښته ځکه چې د خوشحال خټک پۀ نظر د وطن مينه د ايمان برخه ده.

"د وطن مينه اے جانه
را پيدا ده د ايمانه
هغه ملک د زرۀ ارمان دي

---

[*] کاکا صاحب چې د خوشحال خان خټک او د هغه د ورور فقير جميل بېګ پير او مرشد ؤ (دوي دواړه ورونه ئې مريدان وو)

چې پۀ کښې دي ښه ياران دي
که ئې سپي وينې پۀ سترګو
هم ئې ځاے کوي پۀ سترګو
نه د خپل وطن خارونه
نه بل وطن ګلونه
نه د خپل ديار پلوسې
نه د بل ديار نلګوسې
نه د خپل ديار ګرګرې
نه د بل ديار شکرې"[ix]

د خوشحال خان خټک د خپل وطن سره بې انتها مينه دا خبره ثابتوي چې د هغه حب وطن د هغه د ذات، زړۀ، ذهن او فکر يوه اهمه برخه وه. ځکه چې د هغه غونډې مهم جو انسان چې هر وخت پۀ حرکت کښې ؤ د خپل وطن او خاورې د هر اوسېدونکي پۀ مزاج او نفسياتو باندې ئې پوهه لرله. او د هغه خلکو د مزاج او نفسياتو سره سره ئې د هغه ځاے پۀ کاڼو بوټو او سيندونو هم نظر ؤ ځکه چې د خپل سيند پۀ نوم چې ئې کومه قصيده ليکلې ده هغه خپل مثال پۀ خپله ده لکه د دغه سيند د اوبو پۀ اړه وائي:

"د لنډې اوبه سلسالې
د حيات د اوبو سيالې
تر نباتو نه خوږې دي
د فرات تر اوبو ښه دي
لذت ناکې تر نبات دي
خوشګوارې تر فرات دي
که ئې خضر پيالہ وڅښي

د حیات اوبه به نه څښي
زۀ چې هسې تشنه لب مرم
روز و شب ئې پۀ طلب مرم
که یوه پیاله ئې نوش کړم
غم به واړه فراموش کړم"[x]

د نباتو نه خوړې د فرات تر اوبو ښې د نباتو نه خوړې او که خضر ئې یوه پیاله وڅښي نو د حیات او به نه ځښي دا د وطن او د خپل وطن د سیندونو سره هغه لازواله مینه ده. چې خوشحال ئې پۀ ننګ توره بیا پورته کړه. ځکه چې هغه وې درست پښتون به د ننګرهاره تر اټکه پاځي. که خوشحال خان خټک د خپل سیند صفتونه کوي نو پۀ دغه قصیده کښې کښې مخکښې لیکي:

"چې شامل شي له سیحونه
بیماري کاندي بېرونه
د سیحون اوبه کښت نه کا
دے پرې ګډ شي کښت هاله کا
د کابل واړه رودونه
د کونړ، د سوات سیندونه
سره یو شي پۀ سراے راشي
د سیحون سره یکجاے شي
نه مې غژ نه مې نارو شته
پۀ هر جام کښې ئې دارو شته"[xi]

خوشحال خان که هر څو د خپل وطن د کانو بوټو او سیندونو صفتونه کړي دي. نو هغه د خپل وطن د جغرافیه او خصوصیت سره د خپلو سیندونو پهٔ حواله ئې هم پوره علم لرلو، او د دې نه هم خبر ؤ چې د کوم سیند اوبه ښنګه دي؟ او د فصل د پاره د صحت د پاره کومې اوبه ښې دي؟ د دې سره پهٔ دې هم خبر هم ؤ چې د سوات، کونړ او سراے د دغه سیندونه یو شي. او د دغه اوبو پهٔ افادیت هم خبر ؤ، د وطن او پښتنو پهٔ مینه مست خوشحال خټک چې د قېد پهٔ دوران کښې د خپل وطن او د هغې د علاقو سره د مینې کومه هنداره پهٔ خپل کلام کښې ښودلې ده، هغه خپل مثال پهٔ خپله ده. پهٔ یو بله قصیده کښې وائي:

"هغه باد چې کابل خېز دے
پهٔ ما واړه عنبر بېز دے
څوک چې یاد کاندي کابل
پهٔ ګوګل مې شي غلغل
څوک چې یاد که پېښور
زړهٔ زما شي منور
څوک چې یاد کاندي اټک
قاقیه کړم د خټک
څوک چې یاد کاندي بل سراے
د ما یاد شي غه خپل سراے"[xii]

خوشحال خټک که د اټک، کابل، پېښور ذکر پهٔ ډېره مینه کوي نو بل طرف ته پهٔ هندوستان* کښې د پښتنو پهٔ لیدو هم ډېر خوشحاله کېږي. او هلته د پښتنو پهٔ شتون او لیدو خوشحالي

* پهٔ هندوستان کښې پهٔ ګڼ شمېر کښې تاریخي طور بلها پښتانه پاتې شوي دي. پهٔ خصوصیت سره ډیلي، بهار او رامپور ریاستونو کښې ئې شمېره ډېره وه.

کوي. او د هغوي د نسل ختمېدل او شناخت پرېښودل یا د هغه اثر قبلول هم راته پۀ خپلو څو شعرونو کښې ښائي لکه چې وائي:

"چې پښتون راته څوک یاد کا
پرې خوشحال شم زړۀ مې ښاد کا
د دې خوشې ملک هر څه شته
خو پښتون پښتنې نشته
چې له ذاته پۀ کښې نه وي
هغه ملک توره تیاره وي
پۀ ډیلې کښې پښتانه وو
ورځ او شپۀ ئې تله راتله وو
پۀ دیدن به ئې خوشحال ووم
پۀ سخن به ئې نهال وم
اوس له خپله اصله نسله
یو سړے نشته له اصله" xiii

خوشحال خان خټک د قید و بند پۀ دوران کښې که څه هم د هندوستان کښې د خپلو پښتنو سره لیدل کتل شوي وو.نو د دې هر څه باوجود ئې د خپل وطن خاوره او خلک هېر کړي نه وو. د خپل د وطن د مېرې تعریف او د بهار د ښکار خبره ئې هم کړې ده لکه چې یو ځاے کښې وائي:

"د مېرې مزکه مهینه
سراسر واړه رېښمینه
پۀ هر لور چې پۀ کښې درومې
خوشحالي د صورت مومې

د بهار پهٔ وخت که تلے
پښې بربنډې پهٔ کښې تللے
نه ئې کاڼې نه ئې خار وې
څو چې ځې واړه ګلزار وې
شګفته پهٔ کښې اوڅړے
د هر بوټې څو سڅړے
د خاټولو سره ګلونه
نکه پهٔن پلاوونه
چې اول بهار راتله کا
شینډې ګل بلها ډېر ښه کا
لکه مخ پهٔ تور خالونه
پهٔ مېرې کښې زېړ ګلونه" xi v

خوشحال خټک که د خپل وطن د مېرې د قسم قسم بوټو یادونه کړې ده نو داسې ئې ځاے پهٔ ځاے د وطن د وګړو ئې هم ستائنه کړې ده او ورسره ئې د هغو د اوسېدو ځایونه او ټاټوبې هم ذکر کړې دې لکه پهٔ دې لړ کښې د یوسفزو پهٔ تعریف کښې لیکل شوې قصیده پهٔ خصوصیت سره د پام وړ ده. پهٔ فراق نامه کښې چې بله کومه اهمه موضوع باندې ډېر اشعار لیکل شوې دې. هغه د خوشحال خان خټک خاندان دے چې پهٔ هغې کښې ئې د خصوصیت سره د وروڼو وربرونو د بال بچ، ښځو، مور، خور او زامنو ذکر کړے دے.

"دریغه دریغه خپلې مورې
اواره خبرې نورې
وزر وکړې د دې ځایه
یو ځل ورغے تر سرایه

پهٔ هر چا وګرځېدلے
حال د واړو ولیدلے
چې ئې مور پهٔ غم کښې څه کا
چې ئې خور پهٔ غم کښې څه کا
د کورونو حال مې څه دے
د اولس احوال مې څه دے
څوک خوشحال دے څوک دلګیر دے
څوک خندا کا څوک پهٔ ویر دے
پهٔ محل کښې مې څوک ناسا دے
پهٔ خواب ګاه کښې مې څوک ملاست دے
د محل مېرمنې څه شوې؟
چې تر ور پاڅېدے نه شوې
ناز پروره ځوے مې څه شول
پهٔ کوم کوم بلاد خواره شول
اشرف خان به چرته بند وي
څه کا څه رنګ به ئې ژوند وي"[xv]

خوشحال خان خټک چې بندي وو نو کور، مور، خور او ښځو سره ئې د خپل اهل و عیال غم هم ژړلے دے او وخت پهٔ وخت باندې ئې یاد کړي دي. ځکه چې د خپل اهل و عیال نه جدا د قېد پهٔ دوران کښې ورسره د خپلې کورمې غم هم مل ؤ. د مغل پهٔ دربار کښې ئې ځنې خبر خواه هم وو او د خوشحال ګرفتارۍ ئې غلطه ګڼله خو بیا هم خوشحال خان خټک د تورو تمبو شاته وساتل شو. او چې د قېد نه پس ئې راخوشې کولو نو هم ئې ترې د اولاد، بال بچ ذمانت وغوښتلو ځکه چې مغل حاکم پهٔ دې پوهه ؤ چې خوشحال خان خوشې کول به د علاقې امن و امان نه زیان رسوي او

داسې څه نه څه واقعات به پېښېږي چې د عمله به ئې مغل حاکمانو ته مشکل راتلو، څنګه چې يوسفزي خبر شو چې اوس به د خوشحال اهل و عيال هم بندي کوي نو هغوي سيکرۍ ته د خوشحال اهل و عيال بوتلو خو خوشحال چې د خپل اهل و عيال د دغه مشکلاتو نه خبر شوے نو دغه احوال ئې هم پهٔ خپل شعرونو کښې خوندي کړي دي.

"چې مېشته پهٔ سنګاؤ* دي
پهٔ عظيم درياب لاهو دي
د هغو پهٔ حال خبر شوے
را ښکاره ئې هر اثر شوے
چې څه خوري څه ئې خوراک دے
څه ئې ژواک څه ئې پوشاک دے
کوم روزګار کاندي پهٔ غم کښې
کوم کوم کار کاندي پهٔ غم کښې
حال د جتړ† د مور څه شان دے
زړهٔ ئې څو ځايه پرېشان دے
د خلو‡ د مور څه حال دے
پهٔ څه څيز ئې اشتغال دے
څه کا مور د صدر** څه کا
جدائي شوه خدا ے ئې خپل کا

---

* د پښتونخوا د مردان ضلعې مشهور کلے دے. چې د سيکرۍ نه قطب طرف ته تقريبا د دولسو ميلو پهٔ فاصله کښې د بائيزو پهٔ تپهٔ کښې راځي.

† کامل مومند ليکي چې دا د خوشحال خان خټک زوي يحيي خان دے. چې د ډېرې مينه به ئې ورته "جتړ" وې.

‡ خالد خان

** صدر خان خټک چې د خوشحال خټک زوي دے.

حال پۀ څه د باز[††] د مور وي
پۀ اور سوے لکه سکور وي
هم صورت هم ئې صوريت
واړه غم سره لت پت" [xvi]

د خپل اهل و عيال پۀ حواله که هر څو محتاط او غمژن ؤ نو دغسې ئې د خپلې مور سره د مينې او اشتياق پۀ اړه ئې هم يو اوږده قصيده ليکلې ده دلته ئې څو شعرونه بطور نمونه پېش کولے شي. لکه چې وائي:

"چې دې ما د مور قدم دے
هغه ملک پۀ ما ارم[‡‡] دے
که د پښو تلې ئې کښل کړم
در ګوهر پرې باندې تل کړم
تن ئې خاورې پۀ غه لار شوې
چې د دې باندې رفتار شو
دريغه دريغه خپلې مورې
اواره خبرې نورې" [xvii]

د خپل بال بچ، کورنۍ د ذکر نه ورته چې د فراق نامې پۀ شعري او موضوعاتي تنوع کښې بل کوم اړخ د يادونې وړ دے هغه دے حسن و عشق او عشقيه شاعري ځکه چې جماليات د خوشحال خټک د فن او خصوصيت سره د شعرونو بنيادي حواله ده. د عشق پۀ موضوع باندې ليکلي شعرونو نمونه ئې څه پۀ دې ډول ده:

[††] شهبار خان چې د خوشحال خټک زوي دے.
[‡‡] الجنته تحت الاقدام الا مهمات (حديث نبوي)

"اه د عشق د اه د سر ده
چې ځان وچ کا ګونه زر ده
اه د عشق د بېدا دي
چې خوني لړي د وا دي
اه د عشق له شرا شوره
چې غم راوړي لور د لوره
اه د عشق له حاصلاته
ځان رسوا خونه میراته
اه د عشق تېره خارونه
چې په زړۀ کا پرهرونه
اه د عشق د بده تاوه
چې سرے کاندي بې اه
اه د عشق د ډېرې ځلې
سرې لمبې په ګوګل بلې" xviii

د حسن و عشق د کېفیاتو شعرونه په "فراق نامه" کښې په ډېر لوي شمېر سره موندل کېږي. د عشق د اه و فریاد شعرونه د خوشحال خان په کلیاتو کښې هم یو ضحیمه برخه لري. دغسې ئې په فراق نامه کښې هم دا مضمون او موضوع ځاے په ځاے څرګنده کړې ده. لکه چې یو بل ځاے کښې وائي:

"چې پلو د مخه نه اخلي دلبره
ملګرتیا د خوار عاشق شوه بې صحرا

نه ئې زړۀ پۀ ما نرمېږي نه ګروهېږي
خدايه څه مې سر پکار شه له کافره
نه خوب نه مې خوراک نه مې قرار شته
همېشه را باندې تبه وي شپېره"xi x

د ښکلا، عشق او د محبوبا د مينې، د عشق د تکليف او د فرياد ځومره ښکلي نمونې چې پۀ "فراق نامه" کښې خورې ورې ليدل کېږي، نو که پۀ دې حساب که وواېو چې د خوشحال د فراق نامې پۀ موضوعاتي توګه کوم تکون جوړېږي نو هغه کښې يو د عشق او عشقيه شاعري، بل د وطن د وګړو کاڼو، بوټو، سيندونو، بهارونو او ګلونو سره د مينې دے. نو دريم اړخ د ده د اهل و عيال سره د مور خور وربرونو ترونو، ورونو يعني د خوسحال خان خټک د خاندان پۀ اړه باندې اړه لري. د عشقيه شاعرۍ يو بله نمونه ئې پۀ دا ډول ده:

"عشق تر ځوانه نه زوړ لا کا زر نسکور
پۀ پخه ونه لا ښه لګېږي اور
اندرون د هر چا شين د عشق پۀ شين دے
دا يو اور دے لګېدلے لور پۀ لور
چې پۀ عشق کښې ځوک پېغور تړي پۀ نورو
هم پۀ ده پورې به لږ وي دا پېغور
زاهد ورځانې انکار کاندي له عشقه
نلد من ليلي مجنون لولي پۀ کور"xx

د خوشحال خټک د عشقيه کلام لمن او موضوعاتي ښکلا ډېره پراخه او ښکلې ده. د "فراق نامه" شعري موضوعاتي تنوع کښې هر ځومره دېره پراخه ده. او پۀ کلياتو او ديوان کښې ئې هم مونږ

وینو نو دغسې ئې په "فراق نامه" کښې هم شعري موضوعاتي تنوع ډېره پراخه ده. د وطن د کاڼو بوټو سیندونو سره سره د خپل اهل و عیال غم هم ژړل شوے دے نو داسې په کښې د معرفت سلوک، مناجاتو برخه، د ښکار او بهار د باشاهانو د بې نصافئ او طرز حکومت په اړه هم ټکونه شته. د همېش خلیل مرتب کړې دې کتاب کښې د کلیاتو نه کافي استفاده شوې ده. ځنې شعرونه د کلیاتو نه نقل شوي دي، خنې حوالې لمن لیکونه هم ورکړل شوي دي. او ورسره ورسره د قلمي نسخې د پوره پوره خیال ساتلو سره ډېر احتیاط نه کار اخستل شوے دے. د خوشحال خان خټک دا اثر په هر صورت د خپلې موضوع، علمي او ادبي اهمیت په حواله یو ځانګړے ادبي توکے دے. "فراق نامه" د پښتو زنداني ادبیاتو کښې هغه وړومبے شعري مجموعه ده، چې په زنداني ادب کښې ځانګړے حېثیت لري.

## حوالې او ماخذونه

---

[i] خټک، خوشحال خان، فراق نامه، (مقدمه، حاشیه او لټون ، همېش خلیل) پېښور، قامي مکتبه، چاپ کال، اول ځل، جون، ۱۹۸۳، مخ، ۵

[ii] مهمند، دوست محمد خان کامل، خوشحال خان خټک( سوانح حیات) پشاور، شاهین بکس سپوګمئ پلازه جمرود روډ، دوم اشاعت ۲۰۰۶، مخ، ۲۸۵

[iii] همدغه، مخ، ۱۲۸

[iv] همدعه، مخ، ۱۲۹/ ۱۳۰

[v] خټک، خوسحال خان، فراق مانه، مخ، ۱۷

[vi] همدغه، مخ، ۶۰

[vii] همدغه، مخ، ۶۷

[viii] همدغه مخ، ۶۸

[ix] همدغه، مخ، ۶۵
[x] همدغه، مخو ۸۲
[xi] همدغه، مخ، ۸۴/۸۳
[xii] همدغه، مخ، ۱۰۳
[xiii] همدغه، مخ، ۱۰۵/۱۰۴
[xiv] همدغه، مخ، ۸۶/۸۵
[xv] همدغه، مخ، ۷۲/۷۱
[xvi] همدغه، مخ، ۷۵/۷۴
[xvii] همدغه‌مخ، ۷۱/۷۰
[xviii] همدغه، مخ، ۵۹
[xix] همدغه، مخ، ۴۶
[xx] همدغه، مخ، ۴۲